**ليکونکی** : ایرک مارګولیس (Eric Margolis).

**منبع اود خبریدو نیټه** : انفارمیشن کلیرنګ هوز «۲۰۱۵-۸-۲۱» .

**ژباړونکې** : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

---------------------------------------------------------------

| |
|---|
| ***درنو لوستونکو !*** *ددی مقالی عنوان لوستونکو ته یو ډول تشویش ممکن پیدا کړی اوهغه داچی دری غربی شیطانان ولی په دری څمریانو باندی یاده شوی دی ددی سوال ځواب دادی چی د مقا لی لیکونکی ګویا د چا په خبره د مسخری اوداستهزاپه بڼه دغربی نړی په استا ذ یتوب چی ګویا دغه دری واړه شیطانان دهغو له نظره دری خمریان وه یاده کړی دی ...* *دژباړونکی تبصره* |

# دهندوکش له غرونو څخه دری څمریان

## *Three Lions of the Hindu Kush Mountains*

***دغرب ددری تنومشهوروشیطانانو دمرګ خبر*** په دی وروستیوهفتو کی **د** *تولنیزورسنیو له لاری اعلام شوکوم چی له افغانستان څخه ملامحمد عمر اوجلالالدین حقانی اوله پاکستا ن څخه تورن جنرال حمید ګل دی .*

*ما خپله هیڅکله دملامحمد عمرسره ملاقات نه دی کړی سره دهغه چی زه دطالبانو د غورځنګ د تا سیس په ورخ حاضر اوم او په عین حال کی ددی غورځنګ دلا پراخیدو شاهد هم یم.*

*ملا محمد عمر په کال (۱۹۸۰) کی دشوروی اتحاد له خوا دافغانستان په اشغال کی یوضد اوخورا نومیالی اوراوتلی مشهوره مبارزوه. شوروی اتحاد دیوره هوښیار تیا دترلاسه کولو څخه زر له افغانستان څخه پیښی راسپکی کړ اووتل کوم چی د شوروی اتحاد له راوتلو څخه په افغانستا کی د یولسو مجاهد ینو د تنظیونو ډ لو تر مینځ د قدرت دترلاسه کول په هد ف په هیواد کی دکورنی جګړی اور بل شو اوددی تنظیمی اکثرو ډلی دپاکستان د(آی اس آی) په مینځګړیتوب دامریکی د متحده ایالاتو د (سی آی ای ) هراړخیز مرستی تر لاسه کول .*

*د افغانستا ن په جنوب کی د پښتون د قوم د هستوګنی په سیمه کی په جبر*

اودمتروکو په وهلو سره یوه ډله غله او جنسی تیری کونکو دځپل فعالیتونو لمن پراخه کړل – په دی وخت کی یو محلی اوسیمیز مسلمان واعظ ملا محمد عمر یومذهبی سخت دریځ ډلی په یو سیمینار (ګن شمیر طالبان ) کی سره را ټول کړ اوهغوی وهڅول چی دلاری شکونکو (غلو) او لا په قدرت کی د راپا تی کمونستانو پر ضد په مبارزه لاس پوری کړی – په دی وخت کی پاکستان په ډیر بیړه سره دغه د طا لبا نو دنوی ډلی تپلی سره خپل مرستی پیل کړ کوم چی که وشی کړی چی ددی طا لبا نو پواسطه سره خپل نفوذ په ګاونډی هیواد افغانستان کی پلی کړی اود هغه کمونستا نوسره چی لا تر اوسه په قدرت کی دی دغه طالبان په جنګ واچوی.

دپاکستان اطلاعاتی اجنسی (آی اس آی ) په ډیر بیړه سره دغه طالبان مسلح کړل اوپه مستقیم بڼی د طا لبا نو دغه بیمار ډلی ټپلی په یوسازما ن کی سره راغونډ کړ اودتورن جنرال حمید ګل متعصب ،زیړ ، جګړه ما ر اسلام پلو ناسیونالیست پښتون ترمشری لاندی د(آی اس آی ) په مرسته اولارښودنه سره تنظیم کړ. دغه دافغانستا ن پښتون متعصب ډلی په ډیر چالاکی سره دلاری شکونکو اود جنسی تیری کونکو مخه ونیول او هم د تا ریا کو د کرکیرنی اودراکړی ورکړی جریان اومعامله په ټپه ودرول .

ملا عمر دجګړه مارو پښتنو دیو سیوری په څیر جنګی اوجګړه مار سړی وه چی په کال (۱۹۸۰) کی افغانستان دشوروی اتحاد تراشغال لاندی راغی خپل یوه سترګی په جګړه کی دلاسه ورکړ اوپه همدی وخت کی داسی اعلام وکړ چی هغه غواړی داسی یو افغانستان جوړ کړی چی دټول اسلامی ارزښتونو په لرلو سره سمبال اووسی لکه د پاکستان په څیر چی دیومقتدر پاکستانی جنرال ضیا والحق تر مشری لاندی خپل د پرمختګ پړاونه وهی یعنی د هغسی یو جنرال تر مشری لاندی کوم چی دهغه هیله دسور وحشی کمونستی سلطنتی رژیمونوچی په مرکزی آسیا کی وروسته د شوری اتحا د څخه راپا نی دی ړنګ شی .

یوه خبره چی د لته د هغه یا دونه ضرور بریښیی هغه دادی چی واشنګټن دما سکو سره د افغانستا ن اودځنو نورو نظریو پرسر با ندی جوړ جاړی اوموافقی ته ورسید اوهغه دا چی جنرال ضیاوالحق د پاکستان جمهور ریس اوجنرال اخترعبدالرحمان د آی اس آی مشر ـ( ددی مقالی ما لیکوال ته دواړه

شناخته وه ) د هغو دسورلی د الوتکی په خرابولو سره داګست میاشت کال (۱۹۸۸) کی په قتل ورسول شو.

ددی دوارو پاکستانی جنرالانو قتل په مرموز بنی سره چی دچا له طرفه هغوی په قتل رسید لی دی پټ اوناڅرګند پا تی شومګر زیات شمیر پاکستانیان دهغو دقتل پړه د امریکی پرمتحده ایالاتو با ندی اچوی، اما ځما (دمقالی لیکونکی ) په حد س او ګمان سره دهغوی قتل د شوروی اتحاد دمخفی سازمان (کی جی بی) له خوا ترسره شوی وی – بینظیر بوتو ماته وویل چی ځما باور دادی چی دوی دجنرال اسلم بیګ ددسیسی په کولو سره په قتل رسیدلی دی نو ما دهغی څخه پوښتنه وکړ چی ته پخپله دهغوی په قتل کی لاس نه لرل ؟

له صحنی نه د ضیاوالحق په تګ سره فرمانبردار بینظیر بوتو د قدرت اودپاکستان دواک په چوکی کی کینیتول شو اوپه دی وخت کی دامریکی متحده ایالات په بیره سره دخپل متحد پاکستان اود طالبانو څخه لاس پرسر شو اویا له هغو څخه لیری شو .

اما کله چی د ( ۹/۱۱) پیښه را مینځته شو ،جمهور ریس جیورج واتر بوش دخپل قهرد کیښنولو اود امریکی دمتحده ایالاتودحیثیت داعاده کولودپاره دهد ف په لټه کی وه چی غچ واخلی اما هغه په ډیر احمقانه لړلید سره ددی دپاره چی غچ واخلی طالبان یی وټاکل یعنی هغوی چی د (۹/۱۱) په پیښه کی هیڅ لاس نه لرل بلکه پر طالبانو باندی د حملی کولو دپاره داسی پلمی جوړ کړ چی هغو یعنی طالبان د « اوساما بن لادن » ( دسعودی عرب قهرمان په افغانستان کی دشوروی اتحاد په ضد جګړه کی) کوربه دی یعنی همدغه طالبان اوساما ته په افغانستان کی پناه ورکړی دی -امریکا له طالبانو څخه داوساما بن لادن امریکی ته دهغه د سپارولو غوښتنه وکړ – طالبانو ددی د پاره چی اوساما بن لادن امریکا یا نو ته وروسپاری له امریکی څخه داوساما بن لادن د (۹/۱۱) دپیښی په لاس لرلو شواهد او اسناد وغوښتل اما دامریکی متحده ایالات ونشو کړی چی طالبانو ته هسی اسناد وروسپاری چی د (۹/۱۱) پیښه کی اوساما بن لادن لاس ولری . دلته هغه څه چی دهغه یادول لازم ګڼل کیږی هغه دادی چی دامریکی دمتحده ایالاتو دنفتو شرکتونه کوم چی داوږدی مودی څخه سترګی په لاره وه چی نفت د افغانستان د لاری د هند سمند ر په لورمنتقل کړی دامریکی دولت یی وهڅول چی پر افغانستان یرغل وکړی اود طالبان رژیم

را نسکور کړی .
نو کله چې دامریکې متحده ایالات پر افغانستان باندی حمله وکړ  په عین زمان پاکستان ته داسې ګواښ وکړ : که چیری له مونږ سره دطالبانو پر  ضد  جګړه کې تاسې  دیو فرمانبردار دولت په بڼه مرسته ونکړی  مونږ  به  پر   پاکستان باندی دبمونو په ګذار سره ستاسې هیواد دتیږی دوری ته به ور سم کړو د بلې خوا څخه دامریکې دمتحده ایالاتو  ټولنیز رسنې پخپلو  نشراتو کې طالبان  یې د  شریر  د ښمن اود ښځو  ډبونکې (زن ستیز) ترورریستا نو په  څیر  توصیف کړ  اوورروسته له هغه چې   طا لبا ن یې له واکه وغورځول   نو  په افغانستان کې یو نوی حکومت چې ددی نوی حکومت درهبری  په ترکیب کې دطا لبا نو د ښمنان ـ د  مخدره  موادو قاچاق وړنکې  تاجکان – دازبکو داقلیتونو استاذی او افغانی مجرم کمونستان شامل وه وروسپارل. دغه دامریکې دمتحده ایالاتوتو تر حمایې لاندی نوی افغانی حکومت بې دکوم ځند او معطلې  څخه  د  هیروین (تاریاک) دراکړی ورکړی  بازار ته  سمون اودهغه تجارت ته لا پسې پراختیا ورکړ.
د پښتنو دیوه قبیلې یوه رږیره و ر  قهرجن  مشر  جلال الدین  «حقانی» چې دامریکې دمتحده ایالاتو د(سی آی ای) په هر اړخیز مرستې  سره  په افغانستان کې دشوروی اتحادد اشغالګرونظامیانو سره په جګړه کې بخت وه ما (لیکونکې ددی مقالې) دهغه سره ملاقات وکړ  دهغه چا سره  چې امریکایانو هغه ته د یو «آزادی ب**خښونکی مبارز**» لقب ورکړی وه  اما کله چې  حقانی  په دی لټه کې شو چې امریکایان له افغانستان څخه با ید وویستل شی  نو  امریکا یا نو په دی وخت کې هغه دیو ترورریست په نوم یاد کړ  اوورروسته له  هغه  چې د شوروی خارجې اشغا لګرو  ځای  امریکا یې  اشغالګرو  ونیول ـ پس  له هغه حقا نې د امریکایانو داشغال پر ضد   دیو اغزمن او نه  ستړی کیدونکې مشر په صفت دمقاومت په لیکو کې  ودرید  .   او امریکایانو  بې شمیره هلې ځلې تر سره کړ که چیری وشې کړی چې حقانی  په قتل ورسوی اویا هغه له   پښو وغورځوی مګر لا تراوسه دامریکایانو  دغه هلې ځلې ددی سبب نشو چې حقانی د خپل له مخې څخه لیری کړی .
بله مهم مطلب داچې کله جنرال حمید ګل دپاکستان له اردو څخه وځې یا تقاعد کوی  بیاهم د طالبانو  دیو منلې رهبر اولارښود په صفت سره دواشنګتن  دقهر

اود غضب په حاصلولو سره پاتی کیږی - جنرال حمید ګل د خپل د هغه ضد هندی احساساتو او تعصبا تو په لرلو سره بیرته د کشمیر دآزادی بخښو نکو اودپاکستان په اسلامی افراطی پلوو ګروپونوکی ځان ته یومنلی ځای او موقف تر لاسه کوی او دهمدی اصل په بنیا د سره بی ځای هم نه دی کوم چی جرما نونو په ریښتینی بڼی سره ویلی وه : چی د حمید ګل په لمړنی کاری ضربی سره د شوروی ا تحاد درانسکورید و زمینه براير شو .

حمید ګل دچا په خبره ډیر یو روک راست سړی وه هغه داسی ادعا کوی چی دپاکستان اطلاعاتی اجنسی(آی اس آی) ثا بته کړچی دنیویارک د (۹/۱۱) پیښه خپله دا مریکی د متحده ایالاتو یو«داخلی کار اوعمل وه» چی دغه پیښه داسرایل د ملاتړو - د امریکا یی راست پلو ګروپونو — او د اسرایل داستخباراتو دموساد (Mossad) سازمان پواسطه سر تر سره شوی دی دحمید ګل دغه ادعا داسلامی نړی په ډیرو هیوادونو کی داکثرو مسلمانون باور دځانه سره پیداکړی سره د هغه چی حمید ګل د خپل دغه ادعا د ثبوت دپاره کوم کره شواهد اواسناد په لاس کی نه لری اوپه همدی بنیاد سره امریکایانو د حمید ګل دغه ادعا پوچ او بی بنسټ کنی اوهغو هم داسی ادعا کوی چی مذهبی د مخدره موادو ضد --ضد کمونیستی جنبشونه اوطالبان له یوسره تروریستی ګروپونه اودلی ټپلی دی .

همدارنګه جنرال حمید ګل داسی ادعا وکړ چی بینظیر بوټو دامریکی د متحده ایالاتو ګوډاکی او لاس نا ستی دی سره دهغه چی دبینظیر بوټو کلمات دحمید ګل په اړین کم ترکمه بیاهم سخا وتمند انه وه . ایرک (د دی مقا لی لیکونکی ) ما بینظیر ته وویل چی پاکستانی جنرال دی ډیر خوښیږی نوهغه پر ما باند سترګی وویستل ا و په قهر شو او خصوصاً برحمید ګل د حرامی پر ځوی باندی .

ملا محمد عمر دامریکایی میلیونو ډالرو سره چی ترلاسه کړی وه هغه په دیر عاقلانه توګه سره دخلکو دانظار څخه ځان ګوښه کړکوم چی اوس داسی ویل کیږی چی هغه دوه کاله دمخه په کراچی کی پخپل طبعی مرګ سره له دی دنیا څخه سترګی پټ کړی دی ، طالبانو د ملا عمر د مرګ څخه وروسته کوم چی خپل قومی اتحاد دلاسه ورکړی وه تر دغه وروستی وختونو پوری ترهغه چی یو نه چندان پیژند ل شوی اوګمنام امیر دملا محمد اختر منصور

په نوم سره دطالبانو مشر تاکل کیږی دملاعمر مړنه پټ وسا تل شو ـ لکه هغسی چی دهسپانیی دمینځنی پیړی دقوم رهبر ایل سد(El Cid) مړنه پټ ساتل شوی وه .

واشنګټن دافغانستان اودمنطقی له دی وضع څخه ډیر راضی اوخوشحال دی اوهیله لری چی طالبان خپل مینځ کی سره نورهم دړی وړی اومتلاشی شی ترڅو چی واشنګټن وشی کړی چی پر ستراتیژیک افغانستان با ندی کا مل کنترول ولری – اما زه (دمقالی لیکونکی ) داسی ګمان کوم چی اکثر پښتانه ترهغه وخته پوری دغه جنګ جګړی ته دوام ورکوی تر هغه چی طالبانو خپل ټاکلی هدف ته نه وی رسیدلی یعنی دټولو اشغالګرو سرتیرو شړل له دی هیوادڅخه .

**دلیکونکی په اړه** : ښاغلی ایرک منګولا (Eric Mangolis) په لیکوالی کی د بین المللی د جا یزی ګټونکی ، دایرک زیات لیکنی اومقالی په نیویارک ټایم – انترنیشنل هیرالد تیربیون - لاس انجلس ټایم - Time of London - Gulf Time - کالیچ ټایم – Nation – پاکستان ټایم - حریت دترکیی په ټایم – د Malaysia sun time of اوپه ځنی نورو ورځپانو او آسیایی سایټونو کی په نشر رسیږی .

--------------------------------------- **په درنا وی**